که کرونده کې ګنه غبرګه وله وسوځیږي
لوګر به تکنده غرمه کې چیرته دمه وکړي

کرونده

احمد تکل

کرونده

PROPERTY OF
ACKU
2176

احمد تکل

د افغانستان د لیکوالو د انجمن له خپرونو څخه

د کتاب نوم : ګرونده

شاعر : احمد تکل

تیراژ : ۱۰۰۰

کال : ۱۳۶۹

مهتمم : شفیقه

د چاپ ځای : دولتي مطبعه

د لیکوالو د انجمن پر له پسې نمره : ۲۱۳

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشر اتو

د ریاست د ثبت شمېره ۴۳۱

ا . . . ! ؟

څوک ناری راو هي

هو زه پخپله یمه

تربو ربوکونه سر گرزنی

تر باد و نه‌ستړی

تر توري تږی

ترچړي‌نه‌وږی

تر دا ره‌موړ

ترسلاخی‌نه‌خړوب

ا . . . . ! ؟

څوک ناري راو هی؟

دا زه پخپله یمه

احمد یم

په پښتو شعر کې یو نوی تکل

او

یو نوی امید

«کروندہ» د ځلمي شاعر احمد تکل د شعرونو لومړی مجموعه ده چې د ۱۳۶۴ او ۱۳۶۸ کلونو ترمنځ موده کې شعرونه پکې راغونډ شوي دي. ددې مجموعې ډیر شعرونه د ازاد شعر په فورم کې دي او یو څه غزلې هم پکې راغلې دي.

احمد تکل په دواړو شکلونو کې خپل استعداد ازمایلی دی خو زما له نظره دی د ازاد شعر ښه شاعر دی او په دغه میدان کې چې ده کومې تجربې کړې دي نوې او کامیابې ښکاري.

خو دا خبره په دې مانا نه ده چې د ده غزل دې ګوندی له نظره وغورځول شي د تکل غزل هم ځانته جلا ځای او مقام لري.

که څه هم په دې مجموعه کې د احمد تکل د شعري کار د پیل بیلګی را ټولې شوې دي او په دې برخه کې د راتلونکی لپاره د ځغل او ږد میدان په مخکی لری خو بیا هم ویلی شو چی د احمد تکل د غه شعرونه د هیواد د ورو-ستیو د ولس وګړو نو د پیښو او حادثو ژوندی تصویر و نه دی چی لوستونکی ځان ته راکاږي او خپل اغیز ښندی هغه د مسافر په شعر کی وایی :

ته ځی او ما د لته یوه وطن غمو سره یوازی پریږدی

ته ځی او ما تیاری ته

د ولس کلنی شپی ته

د لته یوازی پریږدی

د تکل شعر د سوزید لی او کړید لی وطنوال د ژوند شعر دی د دردونه ډ-کی او دردمن شعر چی هر شعر یی د هیواد د زخمونو او تپونو ویندوی دی . هر شعر یی د دردونو او زخمونو یوه تابلو ده هر شعر یی د دی وطن یوه کیسه ده یوه پیښه او یو بشپړ انځور چی د وطن هر بادر د ه انسان پکی خپل دردونه او تپونه وینی .

هغه په دویم تپوس کی وایی :

غم دی سوکه ، سوکه په زړه باندی درنیږی
بیښی !

زه دی نا راسته وخت کی تا او که وطن
وژاړم

د احمد تکل شعر ځانته څرګندي ځانګړتیاوی لری او هغه دا چی زموږ د کلیو ، باڼو کروندو ، کروندګرو او مېږخلو ولسی خلکو د ژوند هغه کړه وړه انځوروی چی د خپلوتو لو ځانګړو جزئیاتو سره یي په خپل شعر کی راخلی او هغه شعری ترکیبونه او مفاهیم ورته پیدا کوی چی په

څانګړی دول د پښتنې چاپیریال رنګ لري او پردې نه ښکاري . زما په نظر د شاعر مهارت همدا دی چې د خپل مقصد د بیان د پاره په خپله ژبه کې خپل ماحول کې پخپل کلي کې او پخپلو بانډو کې خپل الفاظ ولټوي نظر هغو مفاهیمو او ترکیبونو ته چې تکراري وي او له بلې ژبې نه یې را اخلي . د تکل په شعرونو کې د دغه اصل ته پام نیول شوی دی او ځینې مفاهیم یا ترکیبونه خو یې نادر بریښي لکه د سترګو مسور ځنګل ، د زړه نړیدلی کور ، تاندې بورې ځیرې ، مورنۍ څانګې او یادا مرعه .

ما دې په دار کې د مارانو د کاکل وزانګل

که څه هم ما احمد تکل ته وویل چې د مجموعې نوم د شاعرانه نوم پرځای زراعتي نوم دی خو کله چې مې د ده شعرونه ولوستل او د پورتنیو خبرو سره سره د ده د شعر انځور زموږ د کلیو او بانډو انځورا دی او د کروندې ، درمند ، حاصل ، د غنمو ژیړ رنګ ، ریبل ، او پولې پټي ذکر پکې په بیا بیا او ښکلې طریقه راغلی دی او شاعر د خپل کلیوالي ژوند نه ستا ثر ښکاري نو همدا وجه ده چې شاعر په د کروندې نوم د همدغه تاثر په وجه ایښی وي لکه چې د لوی خوشحال د یو شعر په استقبال کې وایي :

ما د یوه کال د غنمو د درمند حاصل ته

ستا د راتللو دیو ماښام قدرته

لارې ته ونه کتل

ما د څلورو کالو درمند واخیست

او ته رانغلې

او زما ژوند ژیړو غنمو خوړ

ما تور ولاړو ته کتل

کتل

کټل

ته له ځلورو درېندو وروسته

راورسېدې

څوک یې ؟

چې رنګ د ژوند سې د غمو رنګ شو

خود کړو ندې ، درېند ، ربېل ، حاصل د غمو ژېړ رنګ او داسې نورو ورته کلماتو کثرت د تکل په شعرونو کې بېل بېل رنګ او بېل بېل خوند لري چې تکراري نه ښکاري په لومړي تپوس کې بیا هم دا کلمات دي خو رنګ او خوند یې بېل دی :

وسې ربېل

وسې ربېل

ښوکې سې دې واچول

زه درنه تپوس کوم

نور څه غواړې ؟

غواړې چې د لمر له درېنده نه درته وړې په اوږ وراوړم؟

سمه ده . .

وزرونه خوسې بېرته را

د تکل په شعرونو کې چې بل کوم شي ډېر تر سترګو کېږي هغه انتظار دی د هغه چادرا تګ انتظار چې د فصلونو د رسېدو په نیتې د درېندونو د اخیستو په نیتې او د غمو د ژېړو الی او رسېدو په نیتې پورې اړه لري او تر دغې نیتې پورې یې شپې ، ورځې او سودې شمېرلي او د دغه اوږد انتظار په پای کې یې رنګ د غمو د ژېړ رنګ په څېر ژېړېږي او ژوند یې ژېړ غم خوري . دغه یاس او نا امیدي چې په ټولنه مسلطه ده د شاعر په شعر کې

هم ځای په ځای له ټولو ځانګړ تیا وسره راښکاره ګیږی او بیا بیا د کرو ،
ندې حال سوې ته په دې ډول بیانوې :

دا یې ده دویری کر ګر
غنم په لو ر نه ،
په کار تو سوریږی
ته ولاړې
او د سپر لی د خړو وریځو چترونږیده
د هسک په پر اخه غیږ کې
او س باران نه وریږی
او دریابو نو کی کربوړی ناځی
ته ولاړې
د کلی سوی خاوره
نورنو غاټول او لو نګ نه زیږوی

او یا بیا هم په دې اسیدچې که له دغه اوږد انتظارنه وروسته هم
سترګی د ستر ګو سره ولګی نو :

ته به سی ستر ګو کې کنډر کنډر وطن ووینې
چې ګودرو کې یې ځپی ځپی بهیږی وینه

خوله دې ټولونا امید یوسره بیا هم د شاعر په شعر ونو کی دراتلو-
نکی لپاره دا سیدغه څرکونه شته دی او په را تلونکی باندی باوری دی.
هغه د سبا وون په شعر کی وایی :

یوه ورځ
زموږ د کلی د کلاله وره نه
نوره خند ارانه غله

خندا کوچې شوه بیارانه غله، لیرې لاړه له کوچیا نوسره

. . .

خولا هم
دسوی کلي دکو رونو دکړکیو توری توری دړې
د لمر په لور خلاصی دی
د نارنج گل یې د یوی دردونکی حادثې ترنم دی لکه څنگه چې
د شاعر هر شعر یو بشپړ انځو ریوه ښکلې تابلو او د یوې تراژیدی کیسې
بیان دی، د نارنج گل هم د ټولو ښیگړو لرونکی تابلو ده :

د شپې خو نی خپړ و
د چټی پیغلې سرسری سینه کې
د سرو نارنجو بڼ ته لاس غځاوه
او پیغله و ترهیده.
ستوځپو د سیند بستر کې په غرسبا غړسباغا ښونه چیچل
او د کابل د عیاشیوا و گناهخیری یې
خپلو خپړ و کې سرو ړل او سینځل
پیغلې له ټنډې نه دوینوویا له وخنډله ویې پوښتل :
- کابله چیرته دروسې ؟

. . .

همدا رنگه د تکل په شعر ونو کې د «ته ولاړې او بیا رانه علې »
موضوع ډیره د رد ناکه ده چې په مجموع کې د ده په شعرونو کې هماغه
د انتظار خبره راسنځ ته کوی . د ملکیا ربابا د شعر په استقبال کې
چې ده کوم شعرو یلی دی او د کابل نه یې دزا نود تللو
افسوس ښکاره کړی دی ډیر په زړه پو ری د ی خو شاعر یوازې

په دې بسنه نه ده کړې او دیو رښتین شاعر په حیث یې پخپل هر شعر کې د تنګ علتونه هم ښودلي دي او همدغه وجه ده چې د بیرته راتګ انتظار یې هم دردناك او اوږد دی.

هغه وایي:

کابل ورسته یږي غاړې تر غاړې
له تندې وسوې چاپېره شاړې
نه راستنیږي نه راستنیږي
دزانو کله‌ی چې چیرته لاړې

لنډه دا چې د تکل شعرونه دهیواد دوروستیو کلونو او شیبو دحادثو، پښتو شعري انځور رونه دي چې دشاعر احساس او عاطفه پکې نغښتې ده او د هیواد سره دده دمینې او احساس ښکارند وي دي. نو په وطن او خلکو مین شا عر پرته له دغو ترخو حقایقو او دخپل زړه دوینو نور څه وړاندې کولی شي هغه هم دشعر په ښکلې رنګینه او خوږه ژبه چې هر وسرو انګیز به یې تلپاتې وي.

احمد تکل دپښتو داز ادشعر یوه راتلو نکې ځلانده څیره ده چې خپل ځانګړې پښتنې رنګ اولاره لري او ساته پکې دبل چا رنګ نه ښکاري. که تکل دخپلو مصرو فیتونو لره برخه هم دپښتو شعرته وقف کړي، نو زه یقین لرم چې په راتلونکې وخت کې به د آزا دشعر یو مخکښ او نما ینده شاعر وي. که دتکل دشعر دغه پښتنې رنګ او ځانګړې تګ لو رې دپښتنې الفاظو، دپښتنې چاپیریال دموجوده محاورو، دکلو او بانډو دسوچه ځانګړتیاو نه لږ انحراف هم و- کړي نو بیا به تصنعي رنګ پیدا کړي او خپل پښتنې طبیعي رنګ به بایلي. امید دی چې داسې به ونشي.

ae

تکل ځلمی شاعر دی خو شعر یې دځلمیتوب دعمرنه پوخ ښکاری
خو بیا هم کید ای شی کره کتو نکوقه پکې دو زن په لحاظ ځنې
نیمگړتیاوی اویا د نور وارخو نو په لحاظ څه کمی ښکا ره شي ځکه
چې د کره کتنې له سخې هیڅ یو اثر هم د نیمگړتیا و نه خالی نه وی
بیا کره کتنه نه ده کړی او هغه څه چې مې ویلی دې زما د نظراو
احساس خبره ده او له بله پلوه که خدای کول د تکل په وړاندې
اوږ د عمر دی زه باوری یم چې که هغه د ژوند نورو مصروفیتونو
مصروف نه کړ نو هغه به په دې میدان کې نوې تجربې و کړی او
را تلونکی شعر و نه به یې لاد پښتو شعر سینگار کړی .
زه په پای کې تکل ته د دغې مجموعې مبار کی وایم او په
پښتو شعر کې یې یوه ځکلی زیاتونه بولم د ده دلا بریا لیتوب په هیله
بریالی باجوړی
کابل ، دریمه کارته
۱۳۷۰ کال د حمل ۲۳ مه

یوه لنډه یادونه

ډیرو درنو او قدرمنو دوستانو !

هغه څه چې په دې مجموعه کې راټول شوي، زما د ډیرو ښو شاعرو دوستانو په وینا زما د شعرونو مجموعه ده او هیله لرم که دا ټوټې په رښتیا سره شعرونه وي و کولای شي ستاسو د سلیقې او غوښتنې سره سمې وي او ستاسو تنده ماته کړی شي.

ما کله څه لیکلي د خپلو ډیرو ښو لارښوونکو او دوستانو په مرسته د هغو په لیکلو بریالی شوی یم

د شعر د شکلي ژانر په باب ډیر خلک ډیر څه وایي. خو زما په نظر هر شعر تر هر څه مخکې باید یوه نوې خبره او معرفت ته د لوستونکي درسولو په خاطر یوه نوی موضوع ولري. زاړه او تکراري مفاهیم که څه هم په ښکلي فورم کې وړاندې شي له خپل سنتي او دیز ارزښت نه پرته په یوه ټوټ هم نه ارزي.

زما په نظر زموږ د زماني شاعر باید د ناولو او کرغیړنو مفاهیمو له کارولو نه ویره و نه لري خو د شاعر کمال به په دې کې وي چې همدغو کرغیړنو مفاهیمو ته صیقل او ځلاور کړي، تلطیف یې کړي او په شاعرانه اثیري ماحول کې یې د لوستونکي له پاره د منلوړ وګرزوي.

په ما باندې کم شمیر دوستان ډیر وخت د «سپیتانه» او «کب» د شعرونو په خاطر تنقیدونه کوي. هغوی وایي چې د سپیتاني یا سپي

دسفاهیموښته والی په شعرکی سم کار نه‌دی اویوځل خوسی له رادیو
نه‌داهم واوریدل چی‌زسوړ له‌شعرنه‌د « زولوژی » علم جوړشوی .
خوزماپه نظرشعر یوازی هغه شه نه‌دی چی باید په‌اورید و سره یی
دعاشقانو دستر گوتور والوزی اولوستونکی له ډیرزما نتیك اوسا نتی-
ما نتال احساس نه‌بیهوښه شی . زه وایم شعر نه یوازی باید یوځوك
وژړ ولی شی‌بلکه دی‌ته یی‌هم باید وهڅولی شی‌چی مثلا توپك ته‌لاس
کړی‌او خپل کسات واخلی . خوشرط یی دادی چی‌شاعرپه خپلی دغه
شعرکی و کولای‌شی شاعرانه لطیفا وزړه وړو نکی ماحول ایجاد
کړی .

دشعر او د شعرد خرنگوالی په باب ماخپلی تولی خبری نه دی
کړی , که ژوندوه نوری‌خبری به‌نور وختونه‌سره وکړو . خوغواړم
څوضروری یاد ونی‌تاسود رنودوستانو ته‌عرض کړم‌او دهغو گرانو
ادیبانوپه وړاندی خپل ارادت وړاندی کړم‌کوم چی‌په یوه‌دول سره
ددی کتاب په‌ترتیب اوتنظیم کی د خالت لری :

گران لطیف بهاند له کوچنیو الی زما روزنه کړی او محترم
حافظ صاحب،هیوادمل صاحب او انځورصاحب (خدای‌دی یی‌مل‌شی)
زمادیره پالنه کړی . استاد بریالی باجوړی ، استاد خالق رشید ،
اکبرکرگر ،خزان صاحب ، افضل تکور ، سحك صاحب اوگرانیون
زماد شعرونو همیشنی اورید ونکی وو اودوی‌زه زیات هڅولی‌یم .

دگران استاد روهی‌صاحب هغه یادښت چی مسافر انځور صاحب
ته یی‌زما دشعرونوپه باب لیکلی وه تراوسه ماپخپلو ارزښتنا کوپانو
کی‌ما تلی او سنلی استاد داکتر صاحب زیار زماد پیژندلو لپاره

زیاتی هڅې کړی اوزه لەدو اړونه ډیره ننه کوم اودزړه له کومی هیله لرم چې خدای پاك ورته اوږ دعمر ور کړی .

پوهنمل استاد اسد دڅونډ هنراو ښکلا په پیژندنه کې نه یوازې زمابلکه دټولو شاعرانو اواد یبانو ډیرښه ملګری دی .

له ګلاب ننګل او علی احمد اشرف هوتك نه هم دزړه له کومی ننه کوم چې تل یې زما شعرونه او ریدلی او ټکله ناکله خویې ژړلی هم دی .

دګران استاد واصف باختری دمینې اومحبت پەوړاندې دمننې له څرګند ولو نه زماژ به قاصره ده .

په پای کې غواړم ددولتی مطبعی دمانوتایپ دڅانګی له کار ـ ګرانو او ددغې څانګې له مدیر محترم « زلمی محمود » او محترم ـ استاد عبدالواحد څخه دزړه له کومې منه و کړم چې د نوموړی کتاب په ترتیبولو کې یې هیڅ ډول سر ستې نه دی سپمولی .

په ډیرد رنښت

احمد تکل

سرلیکونه

گڼه	سرلیک	پاڼه
۱	داخلې	۱
۲	که زه نه وای	۳
۳	غزل	۶
۴	غزل	۸
۵	غزل	۱۰
۶	غزل	۱۲
۷	غزل	۱۴
۸	تاهیرولی نشم	۱۶
۹	دورکه منزل کوشو کې	۱۸
۱۰	غزل	۲۰
۱۱	غزل	۲۲
۱۲	غزل	۲۴
۱۳	ماته خودی	۲۶
۱۴	غزل	۲۸
۱۵	پښتنې پسرلی	۳۰
۱۶	دخیال زانګو کې	۳۳
۱۷	سباوون	۳۵

۱۵۱

گڼه	سرلیک	پاڼه
۱۸	اندیښنې	۳۷
۱۹	غزل	۳۹
۲۰	د مینې سفر	۴۱
۲۱	ته خو سره ښکلې ښکارې	۴۳
۲۲	سوې سواره	۴۵
۲۳	ته ولاړې	۴۷
۲۴	تپوس (۱)	۴۹
۲۵	شپه او تصور	۵۰
۲۶	سفر	۵۲
۲۷	چې تا ته ګورم...	۵۵
۲۸	مسافرته	۵۷
۲۹	درشل	۵۹
۳۰	په سینه	۶۱
۳۱	دا کربلا	۶۳
۳۲	تجلي، تکه او «سپږنې»	۶۶
۳۳	زیرې	۶۸
۳۴	تپوس (۲)	۷۰
۳۵	داغ	۷۲
۳۶	سپېتانه	۷۴
۳۷	وینې	۷۶

گڼه	سرلیك	پاڼه
۳۸	تادا	۷۸
۳۹	نوم ورکی شاعر	۸۰
۴۰	زما سینه	۸۳
۴۱	گه . . .	۸۵
۴۲	غزل	۸۷
۴۳	دخزان لمن	۸۹
۴۴	..بهار	۹۱
۴۵	د نار نج گل	۹۳
۴۶	څپانده سینده	۹۵
۴۷	وروستی نغمی	۹۷
۴۸	اختر	۹۹
۴۹	د کابل زړه کي	۱۰۰
۵۰	څه ته راغلو؟	۱۰۱
۵۱	وطنه	۱۰۲
۵۲	یأس	۱۰۳

1024.

داخلی

داخلی... !

ښاپېی زما دبی قانونه تېر

دیو سخکښ په امر

دلته دهسک په لوری

لاس څخونه کوی .

داخلی !

ښايي زما دبې قانونه تېر
دسرو ويالو نو ،يادگارونو غېږ وی
هرساز يگر به کوچنيان وزلميان
ورته سرونه په ټيټه ی لگوی
داځلی
ښايي يووخت
زما دښار ديا دونو په خيالی پانه کی
چی دزمان سړوبه بده رپولی وی په«سرو» (۱) انځو رشی
خو... ساته
ساته داځلی دو سره تش نه ښکاری
ساته ښکار يږی چی داځلی به دغره لمن کی
يوا زما نجن ويږی وی
چی دعمرو نوا زما نونه يی زسوږ خواړه ذی
ساته داځلی
يو نوم ورك سپاهی دی
چی خپل آهو نه هره ورځ
اتم آسمان ته لیږی

۱۳۶۳ کال -دحوت سیاشت

---

۱ - سره - طلا

«که زه نه وای عشق به تا لره بلل څوک
په پا لنګ به دی دا هسی درختل څوک»

خوشحال ختک

که زه نه وای

ما د یوه کال دغنمو د درمند حاصل ته
ستا در اتلو د یو ما شام قدرته
لاری ته و نه کتل
ما دځلور و کالو در مند واخیست

اوته رانه غلی
او زما ژوند ژیړو غمو وخوړ
ما تورو لاروته کتل ...
کتل ...
کتل ...
او داتسل را سره
چې «بدرگه که محبت را سره نه وای»
نو« یك تنها به په خونخو ارو لارو تلل ځوك »

* * *

اوس کال
زما ستومانه سترگی
د درمنده دلویې کوټی شاته
ستا په هیر جنو ستر گوو نښتی
ته له خاورودرمند.و وروسته راورسیدی
خوکله ...
چې رنگ دژوندمی دغمو رنگ شو

* * *

نن ماز یگر دی دویالی په غاړه
شین بیا لنی په لاس کی ونښیځه
بیا دی آرام وسل
او گونگو سی دی وکړ :

چې «که زه نه وای
تا به ښارلې کومې ورکې لارې» ؟
دا خوښنم درسره
خو که زه نه وای
«که زه وای عشق به تا لره بلل څوک
په پالنګ به داهسې درختل څوک»

۱۳۶۳ کال

غزل

ستر ګوسی در وکتل بد کوی که ښه کوی
دا ځل خویی وکتل بیا به داسی نه کوی
سترګی دی سمسور ځنګل ، زړه سی نړیدلی کور
ستا پسرلنی کاته ، تش کنډر کی څه کوی

بیاسی که تپوس کوی سه راځه په ورځوکی
ستر ګی یی کوی نشی ، هسی چی بانه کوی
ډیری بی لوظی دی وی تلوکی رانه هیری شوی
څه نادودی نوری به ستاد ناز راتله کوی
پوه ده چی څور یږمه هسی تجاهل کوی
سخ کی سی رقیب ستایی یادسی ددښنه کوی
راسی چی په سخه‌شی ټول ګودر ګودرشمه
نجونی شیطانی خندا ، زما په ګریوانه کوی
ستر ګی دی غزل وایی ، زه یی هسی لیکمه
ته دی ستر ګی سه تړه لیک یی زما زړه کوی

۱۳٦۳/٦/۱۰

غزل

په زړه کې مې ګراني د ګناه ده‌لو زړی
حالا تو مې اخستی دا وریښی ژبی ځړی
په څه باندی مې تور د قدمونو په محل ږدی ؟
زما د قدم نښې خو سهلو هسی وړی

وفارابانديبنده گره ياران بەمی خپە شی
لەئاسره چیملەدی ، داخوتول دی دزره ستڕی
مغروره بانەدیمەشە کەدی زانکم پە کمشیو
پریشوی می لەپاسە دامێداو هەلوپڕی
لەتانە گلەنەکرم ، ناپشتونه زەپشتونیم
تەزماد دجمەنی نەبی، فلکڕابانەدی کڕی
انگاربە میاپروزه لاندیهلە سپرغی باد کڕی
کەبخت می لە فلك خخەنوی وی راوڕی

١٥/٥/١٣٦٣

غزل

سەرمەی دی جەنگەڵ کی پیا بووا ڕووبەرە غوارِی
هەڵەسی هەمدوسەرەدە ، نورخەدر نە نەخوارِی
بەغلی! تەکەشکلی بی، زەخوەم بشتون یەمە
بوجەبە دلبەنەوا یەزیاتی خەخوارِی

هوښيو ته خندا راشي يادچې دزخمو نوکړی
زه يې پروانه لرم، زخم پښتانه غواړی

وصل سحر شوی دی، نوی جفا ګانې کړه
زړه مې خوښه شوی دی نوی میلمانه غواړی

ما د لیونو اثر ومانه په ځان باندې
مینه عقل نه مني، مینه مجنون زړه غواړی

قتل د ځوانۍ زما هغه کشو تاوان په تا
اوس به یې مني ضرور، بدغواړی که ښه غواړی

اوردا زنګوکی دی وربتی زما شولمې شوی
ګورمه لیونۍ سترګې، اور لره اوبه غواړی

١١ر٥ر١٣٦٤

غزل «۱»

«۲» «کابل» ورسته‌ږی ، غاړی‌تر غاړی
له تندې و سوې ، چا پېره شاړې
نه‌راستنې شوې ، نه راستنېږی
دزانو کډی چی‌چېرته ولاړی

«۱» دملکیار بابا د شعر په استقبال چی‌وایی:
ترنګ بهېږی ، ترنګ بهېږی ، غاړی‌تر غاړی
«۲» مقصد د کابل سیند دی

ګه سوبو سوبوچې نه رغېږي

داځه پر هردی، داځنګه داړي

دارمانونو دنیا سوورانه

دچاز ګېروي دي، دهار بهاري

داځه درو شول، پښتنو سړو

ستر ګی سو تپې، پکړي ریتاړي

که دا سولی وه، که دا سی یون و

ګه محو نشوی راتو کی ناړي

١٣٦٣/٥/٧

غزل

«پەسر پە خاوری با دوم ستاپە کوشەبەدرحم»
چنون بە پیا ایجادوم ستاپە کوشە بەدرحم
ستر گی، هستی، عقل‌می‌در کرل‌شەرا پاتی نشول
نور بەمیشە بر بادوم ستاپەگوشە بەد رحم

چی نازنینی تا پەخوە کی لالیدلی نەوی
شار بەدعشق آبادوم ستا پە کوخەیە درخم

سروي اچی لاس ورغخوی د آزادی آسمان تە
زە بە بێتون آزادوم ستا پە کوخە بەد رخم

دیستون لەسکوتەر شوم خو لیول دی زە کرم
زە بە (تکل) فرهادوم ستا پە کوخەبە درخم

١٣٦٣/٣/٢١

تا هیرو لی نشم

زړه په آهو نوکی سیځلی شمه　　　　گریوان په اوښکو لند و لی شمه

سترګی په سرو لارو ګنډلی شمه　　　　سردی په ښو کی ټیټو لی نشم

تا هیر و لی نشم

ستانا کردي بەتولي هيري کړمه   پە زړەبەتوري ورځي تيري کړمه
څوتيري شوي څو بە نوري کړمه   ايري ارمان سي سوځو لئ نشم
تا هيرولي نشم

غرور غرور دي د سلنډونە دي   داڅه سفر پە لارو لنډونه دي
دونډ وويش پە څو بربنډونه دي   پردي سړوند کي دي ليدلي نشم
تا هير ولي نشم

درسره وبي ننم لمردي تورشي   اوبه دي وچئشي پرئ بل دياورشي
کنډر کنډر دي زما سوي کورشي   غرور پە سينه کي رټلي نشم
تا هير ولي نشم

۱۳٦۳/۱/۲۳

دورکی سنزل کو شوکی

که دې په یا دوی هغه ورځ
چې دلمر ډ ـې ستاد سترګو په خو بلنو کسو
دشوق نڅا کوله
تاسی په تپا ل کی دعمرونو دحاصل وزانګل

مادي په دارکی دماراتودکاکل وزانگل
ما مستقبل ته دمرغی په ساده سترگو کتل
تاد طاوس په رنگینو بنکو وترلم
زما ماضی او مستقبل دی وسو
او راته پاتی غم لړلی حال شو
ستا لنډی سینی په لاسوکی دقاتل وزانگل
ما په کوڅوکی دخپل لیری ورك منزلو زانگل
او ته چی هسی پښتنه یی . . . سینی
ستاد نا دودو ، ناکر دوپه وراندی
ستاد غرور دهسك آسمان لپاره
زما یاغی طبعه بسنه کوی
څوگله سوچ کومه
چی گه پښتون نه وای زه
دا ستاد دی دردو درنه څوره به
چاسو هوم منزل ته ورلی . . . ؟

۱۳۶۳/۳/۱۳

غزل

نظر یی زما د زلفو ول ته بوته
ځکه سی مات قلم غزل ته بوته
دی مې کتل دلیو نتوب کتوته
ما یی نظر دستر گوتل ته بوته

هغه زړګي چې دي منګول کې پر یووت

ما دخیالونو تاج محل ته بوته

تا به یې خیال د ساده ګۍ نه ساته

ما دخونې لارو منزل ته بوته

دصبر کلی مې د لمر نه ډک شو

یاغي ارمان مې شنه ځنګل ته بوته

زه یې په قدر د ښکلا پوه نشوم

عشق مې دیار په لاس مقتل ته بوته

٢ر٣ر١٣٦٣

غزل

خەپە کیرەیە گە گوری لیونی یم

دنا یا پەمینی اورکی سپیلەی یم

دجنون غوغامی نەبەشی زایلە

چی بی وا کە روهیلی یم ، غرخنی یم

داورونو ناوي څيرې زماځيږکې
داورين بدن لمنه اورني يم
دهوس سينا مې د که شوه ژړيږي
راته بريښي نه چې زه هم سرګني يم
ګه مې سر دیار په درکي نه ګوزيږي
عشقه معاف مې کړه په خته غرني يم
دارمان دندرسې مات نه کړې ژيړ لمره
دويالي په غاړه مې اوږي بيا لني يم

١٣٦٣/٣/٨

PROPERTY OF
ACKU
2176

غزل

زړه په سوداشورا بهر به نشی
غاړی په وینوشوی سحر به نشی
دفریادی اوښکو فقیر کاروانه
په بیدیا درومه مازیګر به نشی

..ما قی په غټو غټو څه را ګورې ؟
زړه دریا نوشه دی په سر به نشی
خله سی ولی د نظر په غشو
فرهاد فرهادیمه پر هر به نشی
وګوره دی دارما نونو بڼ ته
پانی بی تویی شی ثمر به نشی
زما د هیلو لمر وهلی چینه
سیلاب سیلاب به شی ګودر به نشی
پښتون غرور سی راته وشرمیده
چی ویل یی خاوری ستا د در به نشی
پښتنو ستر ګو زړه ته ښه وګوری
د صبر پانګه ده نظر به نشی
زما د شعر مرغلینی دانی
دغاړی هار به شی ګهر به نشی

۳ر۳ر۱۳۶۳

ماته خودی

تپه شه دلمروړانگی
ماته شه ځنگله کی دځیړی ځانگی
لیری شه دزړه غمه
نن می دجانان په شوخو سترگوگی

تبه ده د شوق ورانګه
نن سی پښتنه د نازدولی ګی لکه تل ګوه وړه بشوه
نن می دجانان سترګو کی غم ښکاری
نن می د آشنا د شوندو ګل کی دیری پتی، پتی پاتی شوی
ماته می خودی شوه، پښتنی!

په پاکه سینه ګی داستا په لاس
ومری د جانان غمه!

۱۳۶۳/۶/۲۷

«تندی د ساقی تر یو، تشی ګاڼی شوی ځی چی ځو
ناسو یو پتنګانو د یوی سری شوی ځی چی ځو»

غزل

ساړه سو محفلونه او حجری شوی ځی چی ځو
سوړ پاتی یو، روانی قافلی شوی ځی چی ځو
چی رنګی میخانی شولی ناراسته یارانی شوی
د سو یو مینانو انګازی شوی ځی چی ځو

دوخت نا تار نه مينه ، نه ساقي، نه شراب پرېښوه
دا روغې ميخانې وې ، ويرانې شوې ځي چې ځو

سوړ سترو بد ستانو ته د زهد څه نصيحت کړي
زاهده ! اوس سوورانې عقيدې شوې ځي چې ځو

سوړ پورته له آوازه دستا لوترانه کړئي
نيمګړې سوپه خو لو کې ترانې شوې ځي چې ځو

داځو ارمانې سترګې ستا خوړو سترګوته پاتې
ساقي لمبې د هيلو دې سړې شوې ځي چې ځو

په تورو شپو کې پلېو په همدې لارو را دروسې
رڼې کوڅې زموږ په وينوسرې شوې ځي چې ځو

۱۳۶۳/۹/۳۰

((چې پسرلی په سیمه دو ښکاری
ښکلی گوانی په وېښېدو ښکاری))

حمزه

بهشتی پسرلی

له د مېولی راتلو ته
منتا هه‌ی مېوه کاسو
هامتا د منتر گو هتیارو دپاره

ستر گی په لارخو ځوم
نانګو څوتي و کړی
دشنوو يالو په غاړه
جلګو کوځي و کړي
ګواکي سپرلی راغلی
دشفق تورې ځاړی سرې ښکاري
آسمان آئينه دی :
دسرو غاتو لو د پيدياوو ګواګي
شاعر آشنا راته تسل راکوی
چې ((پسرلی په سپيدو ښکاري
ښکلی ځوانی په ويښيدو ښکاري))

* * *

زړه مې درياب داسې دی
چې يې څپې په نازاسې ګې خوځي
د آسمانو نو د محبتن په لاسو
ياغی څپې دزمانی په نڅيدو ښکاري
خو لا تراوسه . . . .
دغو کوڅو کی سوځی څپني برېښي
زه دسپرلی وږ موکي تالتوم
ته چې ورګيږی ، پيدا کيږی
پښتنې !
دڅپل ناکامه ، ګامدور کو
ورکو

ورکو یاګار وپانو کی
زه دسپرلی په ښوکی تالتوم .

* * *

سپرلی دی راشی دزمان په اوږو
څه پروا !
که تور ویښته دزلمیتوب په سپینیدو ښکاری
عقله احساس می راته ستړی نه کړي
د یاری رنګ په بدلیدو ښکاری

...۱۳۶۴کال...

د خيال زانګو کې

- اې . . .

کوچۍ تورې !

تا پ، دې لويه لاره ،

چېرې تور سترګې ، غنم رنګه ، پښتنه پېغله ونه ليد له ؟

راته سوسکۍ شي خه و نه وايي اولا ره نيسي .

* * *

خو ښایی

همدا به سینه وی
زه څه پوهېږم
ساوړی تېری دیاغی څپو د شګوځوندی
ځاړی ته ورسوی
اوخپله
د او بوسینځ ته په نڅا نڅا کی دروسی ، دروسی
ما دغره‌ی تکنده لمرو سوځی
او راته پاتی شی حسرت او تنده ،
تږه تیاره دهیلو

* * *

لاس سی له غاړی نه راونغاړی او سینه کوی
دشنو جلګو په لوری و خوځېږو
له سخا سخ کښلو ونه
دشپېلۍ غږ او رمه
چی شپونکی
په لیونی نغمه کی
زما له هیلو سره سینه کوی
چی سخ راوا ړوم یوازی یمه
بیا بی اختیاره په لاردروسم او پوښتنه کوم :
- ای کوچی توری !
تا په دی لویه لاره
چیری تور سترګی غنم رنګه ، ښښتنه پېغله و نه لیدله ؟
- دی لیونی ته ګوره !
ترژ بی لاندی دامی وغړو سېښوی .

۱۳۶۵ر۵ر۲۰

سباوون

یوه ورځ
زموږ د کلی د کلا له وره نه
نوره خندار انغله
هغه دا کوچی شوه ، بیا را نغله ، لیری لاړه له کوچیا نو سره .

په هغه ورځ ماښام و
چې زموږ د کلي د نار نجو بڼ کې او رو لګيد
په کلي توره شپه شوه
ما د نار نجو د بڼ اور
د تا د سترګو په آئينه کې وليد
او ما ليدل چې ستا داو ښکو له هر څاڅکي سره
د کر کې او ربا ندې او بې توييږي
مګر داور شغلو تر هسکه پورې لاس نه رسيده
او زه له او ښکو نه په ډکو سترګو
کورته راو خوځيدم

*   *   *

اى . . . . هى !

دسوى کلي خلکو !

زه دادي

دخپلې سوى کلا و ره کې

دحسرت ، ښادي ، عصيان ، جنون او درد له درانه پيټي سره

لاس مې تر ملا ولاړيم
ما مروره خندا راوړه په وچ ډيرانه
زما د کلي د نار نجو بڼ کې اور ولګيد
کلي مې اور واخيسته
او خندا ژاړي راته
خولاهم
دسوي کلي د کور ونو د کړکيو توري دړې
د لمر په لور خلا صې دي

١٣٠٦٥ کال - دميزان مياشت

(دادی په مخ څه ښکاری نوکاری دی
دازسا دغم داو ښکولاری دی)
« کاکاجی صنوبر حسین سومند »

اندیښنی

ستر گوته سی وگوره
خونباری دی ؟
وی به ، خو په ستر گوکی بی ساري دی
چیری دی که ولیده دعشق آئینه

چیری دی که ولیده دوښو دنه
هلته زما ستر ګی دی
چیری که سفر دی په بید یا و و ، و
و دی لیده دجته چی په لارویی زخمونه وو
هلته زما زړه دی ، خپلو تو او حسر تو سره
هر چیری چی ځیر شوی د ښکلا رازته
هلته به له تا سره رو ښانه اندیښنه زما ملګری وی
ته ور پوری مه خانده
زه څه وکړم ؟
ورانی اندیښنی دی چی بیماری دی
داد سیند خړ دنه دی چی لار باسی
(دا زما دغم داو ښکولاری دی)
تولو سره سمی لاری ملی شولی
لاری دخوبانو چی بی لاری دی (*)

۲۷ ر ۸ ر ۱۳۶۰

---

*ـ وصل حمزه کیږی خوبی لاری شه
لاری دخو بانو چی بی لاری دی
(حمزه شینوا ری)

غزل

یارسره ژوندونه اوس نه مرګ راځي نه ته راځې
لیري سباوونه اوس نه مرګ راځي نه ته راځې
ستړي مې شو ګاري ګړي اوسوي مې کو ګاري هوس
صبرد پښتونه ،اوس نه مرګ راځي نه ته راځې

نغښتې د پښتوځیاګی نیم نظر هم نه کوی
ای د باد پاچو نه اوس نه مرګ راځی نه ته راځی
سترګی به دی هیری کړم خوښېنی سره څه وکړم
لیری کړه او رونه اوس نه مرګ راځی نه ته راځی
للمو د رسندونه مې دوړیو خنداور که ده
قهر دهاسونه، اوس نه مرګ راځی نه ته راځی

۱۳۶۶/۵/۲۲

د مینی سفر

دامرخا ته دغرو په شان لکه په سره ماښام کې

ته په ډ ګر ګی دسر وو ینو بر یا لی ولا ړ یـی

ونه دې،

د سرو یا قو توخلې

سترګې دې تورې پرنجو کې اسما عیله وایه
چې ځار پدوته ګوښې هوای دامې واستولې؟
د کعبې لړ زنده دېوال
که مېښې ؟

که د براهیم لاسونو
چې د حسرت ګوډې و ؟

+ * *

ته زما لاس ونیسه
زما لاسونو کې الهې ډېرې دي
زما لاسوکې درمند ونه سرله خاور وړاسې
زما لاسونو کې دجوار وتا نڅې
د مرغلرو جامې ځان نه یاسې
زه به له لوږې ، تندې مړ نشمه
خو که دې مینې شوم
یا توره شپه شوم
مړ به شمه

* * *

زه د چرګ بانګه سره
د پر کنډو په لاره
سترګې په لارو لاړیم
ته زما لاس ونیسه
د رسرېوې څه
دامې ګلې ته

۱۳ ۶۶/۵/۲۳

ته‌خو سره ښکلی ښکاري

ته‌خو سره ښکلي ښکاری
کله چی :
سوړمی دپانوله شا
ستا پهلیمو کی ښکاری
ته‌خو سره ښکلی ښکاري
کله چی

له پولادي شپېلیو
سرګوني سالدې راځي
او په وير ژلو سترګو
ته را ته وېنې ژاړي
ګودوګه ښکلې ښکاري
ګله چې
داو رد رانه غږ ونه
لکه نښې تر ګېږ ی
او ګودر
په لپو لپو ژاړي
ته په ګودر کې څومره ښکلې ښکاري
څو نه، څه ښکلې ښکاري
ګله چې
د تیارې خونې منډروګي کې شېطا نکه سوځي
او بهر
درانه غږونه نه وي
چې د کوچیانو زانو خوب وتښتي
ګلي څه ښکلې ښکاري
چې بیا
کوچیاني زانې راشي دلته
د آسمان څڅه استر ته
ته په ګودر کې، ګودرګلي کې، سپوږمۍ آسمان کې
کوچیاني زانې کورکې
ته څومره ښکلې ښکاري

١٣٦٦/٦/١٥

سوي سواره

نور نو کړاوندی ته د گودر له لاری نه ځمه
بیا به د کوڅی په ملا کی ستا ستر گو ته نه گورم
ډیر په غاچکی نظر

نور به دی نا مه سره په شونډو کی

[illegible]

مړاوي سوسکانه راځي

پرېږده دغمودرمندو سوځي

پرېږده چې دګلودلې اوروانځلي

پرېږده چې ډېران شي دارمان کلي

پرېږده د خېړېو ځنګل وسوځي

چې سوی

خوله مې خاورې کړې .... !

دلته یوه دنګه خېړې ونړیده خاورې شوه

مځکو ته مې مه راځه

سوی سواره ده وړې نشته دي

سترګو ولي نه ژاړې په سینه پسې ؟

۱۳۶۶/۷/۱۹

ته‌ولاړی

ته ولاړی ،
او پا که مینه دسروووینو په دریاب کی لاسبی
ته ولاړی ،
اووړی

د سرولمبو په خوني غېږکې ناځی
ته ولاړی ،
او شپه په ورځ کې د ګناه په ګوتو
له ترسو اوښکو امیلونه پیي
ته ولاړی ،
دلته دویری کرکر
غنم په لورنه ،

په کارتو سوریږي

ته ولاړی ،
او د سپرلی دغرو وریخو چترو نړیده
د هسك په پراخه غېږکې
اوس باران نه وریږی
او دریا بونوکې کربوړی ناځی .
ته ولاړی ،
د کلی سوې خاوره
نور نو غاتول او لونګ نه زېږوی .

۱۳۶۶/۷/۳۰

تپوس (۱)

وسی ریبل

و سی ریبل

پښوکی سی دیواچول

زه در نه تپوس کوم

نور څه غواړی . . . ؟

غواړی چی د لمر له درمنده نه درته وړی پهاوېوراوړم ؟

. . . سمه ده

وزرونه خوسی بیرته را !

۱۳۶۷/۳/۲۳

شپه او تصور

په يوه سپينه پرده

د نجلی سيوری خپل کالی بدلوی

په تورو ښاورو باندی

د ويښو ښاښکی

سره ځالونه توښې

په سرو بار څو
داوښکو لارې ،
بیا کوښي جوړوي

د شنو باغو په زړه کې
تیاره نیالګو لره
غاښونه چیچي

د سره شفق په غیږ کې
شپه رالویږي
او بچې زیږوي

په توروستر ګو کې مې
نشه در نیږي
اورنګونه اوري

سره ، شنه ، زرغونه
تور او سپین ګډ شي سره

په لندوستر ګو کې مې
شپه را لوڼیږي
او بچې زیږوي

او ستوري ورو و رو
د ما ښام
دارو کې ساور کوي .

۱۳٦۸/۱۰/۳

سفر

لاروی خپله اسپه ودروله

اوڅیړی سترګی یی په شنه آسمان کی ښخی کړلي

سوچ یی وکړ :

- « لمر پریوتلی ؤ

چی کونډې ګاونډی وساته
دتیکلیو غوټه
په پټه وسپارله
ډیری کوڅې تیری شوی
ډیرغرونه شاته رانه پاتی شول
او ډیری دښتی
زما دآسپی ترپښو لاندی زخمی زخمی شوی
شپه ژر راورسیده
خوداسهار نوولې نه رارسی ؟ »
لاروی
ستوروته وکتل اوسوچ یی وکړ :
- « دیار ترکوره ډیر منزل پاتی دی »
شپه لاجاری وه اودلمروړانګو
لا دتیارو له بریدنه
دتیرید لووس په ځان کی نه لید
مسافر ،
په مځکه پریووت اوډخوب زانګوکی وزنګیده
* * *
ډیری مودی تیری شوی
أوډیر کلمونه : بنایی لس ، بنایی یوولس کاله
چی مسافر له درانه خوبه سترګی پرانیستلی

خپلی ځیږی سترګی یی
آسمان کی خښی کړلی
لاشپه وه
اودرڼاوړانګو
لادتیاروله بریدنه
دتیرید لوری په ځان کی نه لید
لاروی
ترڅه موسکا وکړه اوسوچ یی وکړ :
ـ «دیار ترکوره ډیر منزل پاتی دی»۱
اوپه ستومانه ګامو
دناما لومی دښتی زړه کی
په سفرو خوځید .

۱۳۶۸/۱۱/۲

چی تا ته گورم...

خوږې «هیلې» ته

ستا کوچنی لاسونه
ما ته دسرو گلو غنچی یادوی
چی ستا لاسونه له هغونه تښدی
ستا مینه وری کاته

-••-

ماته د مینې سمند ریاذوی

چې تا په ژوندکی لالیدلی نه دی

ستا یانه

ماته یوګڼ سمسور ځنګل یادوی

چې هر ماښام له، هغه ځایه ستا په خونه باندې

داورسکروټي اوري،

ستادا ملالې سترګې

ماته خزان یادوی

چې د سپرلي راتګ ته

لاهیڅ امید نه لري

اوښکې دي

ماته د ځپل کلي ګودر یادوی

چې اوس د ماتو سنګو توقبر دی

۵/۱۱/۱۳٦۸

مسافرته

ته ځی اوما دلته یوه وطن ځمو سره یوازی پریږدی
ته ځی اوما تیاری ته
د ولس کلنی شپی ته
دلته یوازې پریږدې

ته څې چې زه د لته داوښکو د پردې له شانه
د سویو سو یو در منډونو نظاري وکړمه ؟
ته څې اوزه درالویدلو ستور وپل
او د شهیدی مینې قبر چیرته و پلټم ؟
چیرته د کوم سزارپه سرپاندې دیوی بلې کم ؟

ته ولاړشه . . .
خو په پښتو باندې قسم درکوم
چې دې په هر ځای کې آسمان نظرته شین درشي
هلته په لمرته زما سلام وایې
چې دې په هر ځای کې ګلان ولیدل
هلته بهارته زما سلام ووایه
چې په هر ځای کې چاد مینې په دود
تا ته نظر وکړپه هغه ځای کې
ددې شهیدې پاکې مینې په نوم
یو څو دیوی بلې کړه .
ورحمه الله دې سل شه ...

۱۳۶۸/۱۱/۷

درشل

لاری جا رو کړی ، ډیر اوروّنه پل کړی !

له لارو ،

اغزی او «سری» * لیری کړی !

دخوشالی ډولونه وغږ وی !

شپه په سندرو لکه ورځ څوندی کړی !

نوی جاسې واخو ندنی !

زما دخونی دیوا له نه زوړتوپک راواخلی ،

اویو څو دزې وکړی !

چې د شپې ستوری دد روښا هین زما کلاته ،

له یوه زخم[1] ، یو کفن او له یوی غوتی خندا سره

میلمه راغلی .

۱۳۶۸/۱۱/۱۰

* سری- اغزن بوټی دی

په مینه

نیلاب د تبری گودر
نیلاب د لعلو غلی
نیلاب د ولي لښته
نیلاب د او ښکو پرخه

«گوچنی نیلاب ته»

نیاهب دخیال ګلی کې ښکلې ماڼۍ

لکه د ګلو څپه

لکه شراب ، لکه تو دوخه ، لکه مینه په رګو کې خوځي

لکه د «قوبنکه»

لکه دزړا نوې مینه

لکه خوږه خبره

لکه بې سارې نښه

لکه د مینې شېبه

لکه دغرو نو هوسۍ

لکه سمسوره کرونده ، لکه سمسوره مینه

څمجن کاته یې و سوسې اوروي

زما وحشي سترګو نه مینه غواړي

زما په شونډو کې خندا کړي

او پښې مې دراتلونکي سباه ،

په هتکړیو تړي

خو زما غوڅ لاسونه ، نه ورسي

دې دقیصې څانګې ته

١٣٦٨/١١/١٦

دا کربلا

دا کربلا کوسی بلا په وینوو لړله ؟
داد حسین ترګل نازګی هیلی
دلته چا د قربانی نذر کړي ؟
دیز یدهه عمر دی ؟

چې لا تر اوسه یې لاسونه ګهوارو کې دماشومو هیلو پانې سوځي
او اورنې سترګې یې
دشنو باغو نوزږه ته
د کرکې اورنده سکروټې شیندي
یزید ژوندی دی او لا سا پکې ده
لکه بلا ، لکه نیستي ، لکه بدي ،
چې شته دي،
لکه مرګ ، لکه خزان ، لکه زشتې او ناکامۍ چې شته دي
یزید ژوندی دی او لا سا پکې ده
لا له سرو نو نه پوړنې اخلي
لا لارې داړي ، درسندونه سوځي
لا یې خپرو کې ژوندي زړونه دي
لا په پردې ژبه دو یارستي سندرې وایي
یزید ژوندی دی او لا سا پکې ده
لا لیونی فکر یې
د «تاج محل» رنګین خوبونه ویني
لا یې خیرنې سترګې
د پنجرو له شا خرقې ته پاتې
دا هماغه یزید دی
چې «کوه نور» یې لوټ که

ستر گی یی نه سریږی
تنده یی نه ماتیږی
یزیدژو ندی دی اولاسا پکی ده

*   *   *

اې . . . .
د کربلا په اور کی وریتو خلکو !
یزیدژو ندی دی اولاسا پکی ده.
خوآیا . . .
په دې درنو سرو کی
په دی خیږو ماغزو کی
د دې بلادشنه ولوکوم آیت شته . . .
که نه . . . ؟

۱۳٦۸ کال د سنبلی میاشت

نجلۍ، تکه او «سیرنۍ»

تندر را کوزشو

اوغر وریږیده

په نجلۍ هیڅ و نشول

تندر را کوزشو

(ميړنيو) او رميږونه تيت کړل
خو دالا هسکه غاړه لمرته گوري
تندر راکوزشو، تکه ولويده، غرور پيده
او ميړنيو د نجای جنازه
په خپلو تيټو اوږو رميږونو يووړه
او او رميږونه نورهم تيت شکاره هول
خو . . .
دالا هسکه غاړه
لمرته گوري
۱۳٦۸/۸/۱۱

زیری

لکه‌اور ځوندی توده وه
سره ځپړ کی می‌خوره شوه
تورو سترګویی په زړه کی
د کابل ماښام رایاد کړ

هسی خېر ، هسی بې ستورو
هسی سوراو ډك له وینو
ورنه پوښتم :
څنګه سره یې . . . ؟
یوه غلی شان مو سکا کې راته وایي :
- دجګړې له کلی را غلم !
اوس مې پرېږ ده چې ویده شم
غم او خوب مې ز نګوینه
+ + +
- ده ویل سل ځلې یې جوړ کړه بیا به یې وران کړم
ما ویل سل ځلې یې وران کړه بیا به یې جوړ کړم
خو که لاس مې د رته بر شو
فقط یو وار به دې کور هسې اوار کړم
چې تاریخ به له هغې شیبې شروع شي
- بیا به څنګه . . . ؟
- بیا نو هیڅ
لا تاریخ هغه تاریخ دی
لا جهان هغه جهان دی
لا کور ګې مې هسې وران دی
لا د اور په څیر توده یم
لا د جنګ په وینو سره یم
خو که لاس مې ورته بر شو
فقط یو وار به یې کور هسې اوار کړم
چې تاریخ به له هغې شیبې شروع شي .

۱۳٦۸ کال د عقرب ب میاشت

تپوس

(۲)

هم دی سوکه سوکه په زړه باندی در ټیږی

میږی !

زه‌دی ناراسته وخت کی تا او که وطن وژاړم

ته‌ولاړی ،

او دعالم دبلي غاړی پهٔ دیوانه شولی

هلته چی :

رنی او به رنو چینو کی خوځی

خو گودرونه نشته

ځلمی او پیغلی شته ، واره زاړه شته

خو هلته مینی نشته ، گلی نشته

او په‌دی خدای پوهیږی

زه اوته به

په دی خیرن جهان کی

بیا سره ولیدی شو . . .

که دواړه لمر ، سپوږمی شوو ؟

۱۳۶۷٫۸٫۱۳

داغ

تاپه وروستی شیبه کی شکل نه کرمه
او دادی ومی لیدل
چی انسان ژرله خاطرونه وزی
خوسینه نه هیریږی

او او ښکې نه هیریږي

* * *

ما ته به څه ووایي

کله چې

څوکاله وروسته یوه تورسا ښام کې

یا یوه ژیړه غرمه

زموږه سترګې سره ونښلي

او کسي ولاسبي دیادد ریاب کې

زه به دي سترګوکې بهار سره غربت ووینم

خوته به څه ووینې . . . ؟

ته به سې سترګوکې کنډر کنډر وطن ووینې

چې ګودروکې یې څپې څپې بهیږي وینه !

۱۳۶۷/۸/۱۴

سپيتانه

سپي پوهيده چي شپونکي ،
دي ورشکاري
هغه ليوه ته چي رمه کي څري
نه ورپا څېړي او نه ګوري ورته

په سڅکه پروت دی او لکی خو ځوی
او خپلی شونډی څټی
لیوه‌رمه کی دور غوسو لو کوی او در وسی
سپی لا لکی خوځوی . . .

۱۳۶۸/۸/۱۵

وينې

دچټې پېغلې منګې
له لوښ کمره نه ولويد
منګې کو دي کودي‌شو
او ټجلې بيا وژړل

چې په منګې ګې له او بو سره خوښاڅکي ويښې
يوه شپه شوی . . .
د تورو خاورو زړه ته ننوتي .

۱۳۶۷/۸/۱۸

تادا

راشي اووګوری خزان ددی سپیدار په پانوخه ونه ګړل
راشی اووګوری
ښکاری دمسافر وزانو
په زړو کی څوسره چړې خښی ګړلي

راشي اوو گوري

چې شپې له نازو لوستورو
څه اسيلو نه جوړ کړل
راشي اوو گوري

دجيل په وينو پټې خونې
چې «آزادي» پکې ډوبيږي شتنکې وهي
راشي اوو گوري

ديا رستر گوته
چې په ژړا ژړا سکروټې شولې
راشي اوو گوري کابل ته

چې اور بل کې يې
اور ونه بل دي
راشي اوو گوري زما گوگل ته

څه ارمانونه پکې سوځي اوسري
راشه او گوره کليوال ته،

په پردي ژبه سندرې وايي
دسيړني تبر دو يارسندري
راشي اوښه و گوري

۱۳۶۸/۸/۲۸

نوم ورکی شاعر

هیڅوک نه ویل چې دا څوك و

دا نوم ورکی شاعر

چې له یو ځړکه تر بل ځړکه پوری

د خپلې خونې دا خواشینی کړکې نه پرانیزی

هیڅاونه ویل چی دا څوك ودانوم ورکی شاعر
چی ورځ کی سل ځلی رهیږی او سری
او دښار ښکلی نجونی نه ښکلوی
چی کله خاندی لیونو غوندی شی
چی کله ژاړی بارانو غوندی شی
هیڅاونه ویل دانوم ورکی شاعر
دمنی تورو شپو کیڅه لټوی
او دخزان منګولی
دشڼو خیریو داوړ دو څڅو په لته کی په څه لټوی
څوك وایی سرتودوی
څوك وایی پر یووت دګناه بستر کی
او دپیغلو تو اور بلوکی دبنګ بوټی تومبی

* * *

څو ...
دا نوم ورکی شاعر
نه چیری سرتو دوی
نه دګناه بسترکی
دڅتو پیغلو او ربلو کی دبنګ بوټیتومبی
هو !
دا نوم ورکی شاعر
دتاندو هیلو ځوانیمرګو
او دقودوینو
دتوږید وغمجنی ساندی وایی

او دساره خوږلن په زړه کې سرې سکروټې ګوري
او دخپل پلار په خیر آسانه خپله ساور کوي
او هیڅ ترې نه پاتېږي
نه سرې سکروټې نه غمجنې ساندې
اونه دېنګو بوټي
تش یوڅو سړاوي سکرې
چې یو کال وروسته ترسا ګورته دروسي .
۱۳۶۸/۹/۱۸

زما مینه

زما مینه یو وطن دی
چی ما ښام یی یوه لویه دنیا غم دی
چی سند روکې یی یو باران ژړاده
زما مینه یو وطن دی

ننګرهار یې باغ سترګې
بدخشان یې لعلي شونډې
او شمشاد یې د نګه ونه
زما سینه یو وطن دی
انګۍ یې زما د ګلې دانارو ښایسته بڼ دی
او غروریې د پامیر له هسکه لوړ دی
را روانه لکه زانه
د کابل له پاسه درومې
د جنوب تود وجلګوته
زما سینه یو وطن دی
ه شماله تر جنوبه
له ختیځه تر لویدیځه
د سروو ینو ،رنواو ښکو
پکې خړشانتې سیلاب دی
توري زلفي یې په ګلیو
د ظلمو نو کیسې وايي
زما سینه یووطن دی
یو وطن دی
د زخمي ویشتلي زانې یا زخمي هیلې سینه کې
۱۳۶۸/۹/۲۰

که . . .

حیف ...
که دا توده شیره
ژمی کی
دسترې مسافر غیبره توده نه کړی

حیف که دا توده سینه

ستړو سړوند وکی ساونه باسی

دریغه که دا زړکی غرځنی سترګی

شم کی دسپرلی دسرګ ونه ژاړی

دریغه که له سینی نه انکار وکړی

حیف که دپردی په لوری وګوری

دریغه که داسپینی سرسری لیچی

لته دشهید کی تر ځنګلوسری په وینوشی

حیف که داتن غوغا له دی لیچونه تشه وی

دریغه که نکریزی پنجاره وونه څوله وانخلی

دریغه که دنیا له سینې تشه وی

دریغه پسرلی که بیا زرغون نشی

ونی او نیالګی که بیا ژوندی نشی

دریغه که ته ځپله سپرلنی خندا

داچی دځوتی پرشونډ وهم ناځی

زما له سترګو پته کړې

زه به په داهسی جهان اور دکړکې وشیندم

لاس کی به مشعل دعلاالدین وا خلم

زړه به سی دکړکې خزانه کړم دی جهان ته

جهانسوز ځوندی

۱۳۶۸/۹/۲۷

غزل

مه‌را وره څپی دعصیان مه راوره
وخته دخو نکار ودوران مه‌راوره
پنه‌ی کره دغم سند ری پنه‌ی کره
زړونو کی دماتو توپان مه راوره

پر بو ده ! دەتم خبری هەریێ ئی
كبتە دخود بو آسمان مە را ورە
وَرانی موپەسرو وبنو ودانی گری
سوز كی دو ینو دیران مەرا ورە
و ختە لە هو نكا رو سرە مل ژشی
ورهو كی دتور و شپو عبان مە ژاورە
تنە پنجرو كی پنجر ی مو شو ی
اوسَ راتە پەورە كی ها سوان مەراورە
تشو تشو خونو كی گای مەخوارە
چورو گنلە والوتە تالان مەراورە

(. . . .)

د خزان لمن

داتا ندی بوري څيرى

اودا مور مړي ځانګي

دګو مي سيني دزيا رت دپاسه

دګوم شهيد ارمان دروا ح په نامه

لاس په دعا غځوی
چې دخزان سوړه لمن کې یې دژیړو پانو
پوړنې وغوړاوه .

۱۳۶۷ر۸ر۲۱

سهار

ګرد ګناه په زړه ګې
د دردانځور په ځا ځو
تته رڼا په ستر ګو
خزان ځنګل په ځنو

ما ته توبه په ژبه

دوته شرابو باندې څخوند وهمه ۱

ای وروره !

زهٔ څه خبر شوی چې دشپې په میخانه کې وسه ؟

۲۲ / ۱ / ۱۳٦۸

د نارنج ګل

د شپې خوني ښیرو
د چتې پېغلې مرمري سینه کې
د سرو نارنجو بڼ ته لاس ښکاوه
او پېغله وترهېده

سترګو سیند بستر کې په غړ سبا غړ سبا غاښونه چیچل
او د کابل د عیاشیو او ګناه خیرې یې
څپلو څپو کې سرورل او سیځل
پیغلې له تندې نه دو ینوویا له وخندله، ویې ویل :
ـ کابله ! چیرته درومې . . . ؟
سیند غاړه هسکه کړه او وخوځیده :

ـ ځم چې د وینو کاروان
د نارنج بڼ ته یوسم
ځم چې د ژوند رڼایې
د مرګ مدفن ته یوسم

* * *

شپه رانژدې شوه، پیغلې کریږه وکړه
د سیند بڼ ته یې د شپې څپې ولاس څکاوه
څو د شپې مخ ته له ډیرې کرکې لاړې تو کړې .

* * *

د شپې منګولو کې د پیغلې د ګریوان رڼه تنې پاتې شوه
او سیند د پیغلې جنازه د سرو نارنجو بڼ ته وسپارله
چې د راتلونکي پسرلي د نارنج ګل ترې جوړشي .

سروبی – ۱۳۶۸/۳/۱۸

څپا ند ه‌سینده

شپی که وی‌همدو سره
که واوری وی‌همد وسره
باران که‌وهمد وسره
که اوښکی وی‌همد وسره

گە وێنی وێهەند وەرە

جهاندە یاغی سێندە !

لەگوسە دێداز وراود اُستێدە ؟

٢١/٣/١٣٦٨ ـ سروبی

وروستی نغمی

پشتون دبرید له کرشی پوری ووت

اوو یی سسل

اودتتر له یاقوتی سهال لەزخم نەیی

دگاتەوینو غوروشکوداری و کری

پښتون اري ځېږي ته ورته په نمجنه ځمکه وغوړېده

او پاڼې ورژیدې

آسمان شینې ، شینې پرې وژړېده

او سپوږمۍ

د تورو ریځو له کیږدۍ نه سر د باناۍ نه کړ

د ماښام سرې لمنې

د تورې شپې پوړنۍ

په ځپل خاورین اندام راپرې ایسته

او شونډې یې سرې سرې شوې

او سرګې له ستورونه وطن ته اسیلونه پیل

غرونه غرور غرور شول

وسیند نغمې نغمې شو

داد پښتون غوږوکې

د ژوند وروستې نغمه وه

خو سیند روان و

او وروستۍ نغمې لا سماندې ویلې

د پښتنو غوږوکې

۱۳۶۸/۵/۱۱

اختر

وطن کنډه رکنډه ردی کلی او راخلی په اور
اختر دی، اوخوانان قربانی کیږی په هر لور
زه تا ته دی اختر کی هیڅ تحفه راوړلی نشم
زما نیمزالی سینی! کر کی وران کړ زما کور

د کابل زړه کی

له لیری کلیو راغلم د کابل زړه کی دیره شوم
راوخوځیدم راغلم او په خاورو کی ایره شوم
د درد څپو کی آه شوم وروسته په ټه شان ژړا شوم
په چیغو کی فریاد شوم ، فریاد و نو کی ناره شوم

څه ته راغلو ؟

له خاورونه راپورته شوو او خاورو کې ویدیږو ،

له هیڅ نه راجلاشوو بیرته هلته ور رسیږو

په منځ کې ټوله لا ره له در دو آ هو نه ډ که

پوه نشو څه ته راغلو ، څه ته بیر ته ورستنیږو ؟

وطنه

PROPERTY OF ACKU
2176

PROPERTY OF ACKU

نا ښکلی بر یښی ستا ښکلا ته‌وا ړه ښکلی ښکلی
داستا د عظمت نښی‌دی په‌درست جهان کی‌ځلی
حیران یم دا ددو وو ر ځو هوښیار اونا زولی
په‌کوم ایمان د کرکی تیری ولی ستا په ګلی

احمدالله تکل د مرحوم امان الله زوی د

میداني ښار د نرخ د علاقه داری امروند د

صدمردي په کلي کې زیږیدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د کابل د حیاتي او شیرشاه سوري په

ښوونځیو کې ، او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون دهنرونو

د پوهنځي د تیاتر په څانګه کې سرته رسولې دي.

د احمد تکل شعرونه له دیارلس سوه دوه شپیتم کال نه را

پهدې خوا د هیواد په مطبوعاتو کې خواره واره چاپ شوي دي.

نوموړی شاعر اوه ویشت کلن دی او دا یې د شعرونو

لومړنۍ مجموعه ده.